مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمیع الدین افغاني

۲۰۲۰/۰۳/۲۷

# تسلیت

د غم وريځې بيا په شنه اسمان خورې شوې
بيـــا د قهره د افـــق لمنې ســـرې شوې

نن د اوښکـو دريـــابونـــو حساب نشته
چې داغـــداره مـــو منزلونه قافلې شوې

خپل په وير، پردي په وير هرخواته وير دی
په معبد کـــې د هنودو دمـــاکې شوی

ځوانيمرګ يـــې ارزوګـــانـــې اميدونـــه
ټول د خاورې سره خـــاورې افسانې شوې

دا ژوندون مونږ ته عجيبه شانته ښکاري
هره قدم د ځـوانيمرګـــو هديـــرې شوې

دا شيبې، شيبې د غـــم او د مـــاتم دي
پـه دې خلکو، مالتونو د غم شپې شوې

ربـــه تـــه د درديـــدلو زړنـو مـل شې
چې د چـــا د اميدونو ډيوې مـــړې شوې

شاعر: سمیع الدین افغاني


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ